# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــاد      بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم      از آن به که کشور به دشمن دهیم

afgazad@gmail.com      www.afgazad.com

| سیاسی | Political |
|---|---|



ليکوال او شنانډ: نظرمحمد مطمئن

۲۹ اکتوبر ۲۰۱۵

## د غني ملي اجماع او د کرزي راتلونکې لويه جرګه

اوس نو په دې کې شک نه دی پاتې چې د **غني** او **کرزي** ترمنځ ستونزه مخ په زياتېدو او رسنيو ته په وتو باندې ده .د کمونستانو* په وخت کې د هغوی د ضعيفو حکومتونو په شتون کې د خلق او پرچم ګوند خپلمنځي سيالی هر وخت رواني وې چې همدغو سياليو دننه د هغوی نظام نور هم له سقوط سره مخ کړی و.

د غني ګډ حکومت چې په خپل جوړښت کې بلا ډېرې ستونزې لري، تر ټولو خطرناکه يې ورته د پخوانيو مجاهدينو د اپوزېسون خبره او د کرزي په خوښه د نظام د منحل اعلانېدو ستونزې وې.

غني وتوانېد چې د استاد **سياف** په مشری د مجاهدينو د قوي اپوزېسون مخه ونيسي، البته په هغه ټېم کې کرزی هم د استاد سياف او د غني د مخالفې ډلې تر شا ولاړ و، کله چې د جهادي ګوندونو د يووالي شورا د اتو پخوانيو جهادي ډلو له خوا اعلان شوه، بيا هغه و چې په تدريج سره استاد سياف پر دې قانع شو چې د ثبات يا مجاهدينو د شورا په نوم له غني سره معامله وکړي.

اوس چې د کرزي ډلې ځيني کسان د غني په خوا کې عملاً ودرېدل او ځيني د درېدو په درشل کې دي، د غني پر ټېم به مثبت تاثير ولري، خو هومره هم نه لکه چې غني او د هغه ډله يې فکر کوي.

کرزي د غني د حکومت د چپه کېدو لپاره ځيني اساسي کارونه کړي دي، يو له هغو د واليانو ټولنه ده چې همدا پخواني واليان چې ځيني په کې په خپلو ولايتونو او سيمو کې نفوذ هم لري، د غني پر حکومت به په بېلابېلو وختونو کې بېلابېل فشارونه راوړي، تر څو د هغه حکومت نور هم ضعيف او د ولس اعتماد او باور پرې کم کړي.

کرزی په ولسي او مشرانو جرګو کې هم ډېر پلويان لري او هغوی چې د غني له کړنو ناخوښ هم دي، دا هم يو له عمده فشارونو څخه ګڼل کيږي.

مدني ټولنې چې ډېری يې د کرزي د حکومت پر مهال جوړې شوې او ډېری د همدغو ټولنو مشران هم د غني له حکومت څخه ناخوښ دي، دوی به هم د کرزي دا خبره چې لويه جرګه دې راوغوښتل شي، ورسره بدرګه کړي.

او مهمه دا ده، فکر نه کېږي چې غني به له پخوانيو مجاهدينو سره پر خپلو کړو ژمنو وفادار پاتې شي، ممکن چې ځيني د هغوی هم بېرته د کرزي لمن ونيسي.

ډاکټر عبدالله چې څنډې کېدو ته ځان ويني او د شمال ټلوالې ډېری پخواني مشران او قوماندانان ورڅخه ناخوښ دي چې غني د هغوی د خپلولو هڅې کوي او نږدې وخت کې يې مثالونه د يونس قانوني، بسم الله محمدي، امرالله صالح او

ځینو نورو دي، نو عبدالله به هم ځان په تاوان کي ووینې، ممکن چي د هند یا روسیې په وساطت دی هم کوم وخت د کرزي په څنګ کي ودرېږي.

تر ټولو مهمه دا ده چي کرزي په تېرو وختونو کي له چین او روسیې سره ښې اړیکي جوړې کړې دي .له هند سره یې وار له مخه اړیکي ښې دي، ایران هم تر غني پر کرزي ډېر باور لري او پاکستان هېواد هم هغه تمه چي له غني څخه یې درلوده، مخ په اوبو لاهو کېدونکي ده.

دا چي په امریکا کي د ۲۰۱۶ ز کال انتخابات را روان دي، که جمهوري خواهان واک ته ورسېدل، بیا به هم د کرزي په ګټه لوبه واوړي؛ ځکه هغوی به د ډیموکراټ ګوند له انتخابه چي غني یې واک ته رسولی جوړ نه وي او یا ممکن غني له هغوی سره هم سازش وکړي، د هغوی د ډېرو پوځیانو د پاتي کېدو خبره او هر ډول غوښتني یې ومني.

غني غواړي چي د کرزي د لویي جرګي د راغوښتلو طرحه د ملي اجماع په جوړېدو سره ناکامه کړي، د غني هڅه به دا وي چي ځیني داسي مشران سره راټول کړي چي هغوی د حکومت غوښتني ومني او د امتیازاتو په اخستو سره د ملي اجماع په غونډو کي ګډون ته زړه ښه کړي، دا به د پخوانیو مجاهدینو ځیني مشران، هغه قومي مشران چي د غني پلوي لا هم کوي او یا داسي مشران چي غني کولای شي هغوی د امتیاز په ورکولو سره راضي کړي، په ښکاره به همدا د ملي اجماع له کسانو څخه د هېواد په اړوند مسایلو کي نظر اخیستل کېږي، خو فکر نه کوم چي عملي شي؛ ځکه اصلاً د پرېکړو د عملي کېدو صلاحیت اوس مهال له امنیت شورا سره دی.

کرزی غواړي چي لویه جرګه را وغواړي او د لویي جرګي له خوا د خلکو پرېکړه داسي اعلان شي چي اوسنی ګډ حکومت ناکام دی او د دوام وړ نه دی، دغه حکومت به منحل اعلان کړي او په لویه جرګه کي به د افغانستان د مشرتابه لپاره کوم بل مشر ونومول شي، د ګډ حکومت پر مشرانو به غږ وشي چي واک نوي مشر ته وسپاري.

دا چي په قانوني ډول سره کرزی لویه جرګه نه شي جوړولای او نه هم اوسنی حکومت په قانوني ډول سره د لویي جرګي د راغوښتلو وړ دی؛ ځکه د پارلمان د غړو هغه ټاکلي نېټه پوره شوی ده، په اساسي قانون باندي خپله د حکومت مشرانو پښې ایښې دي، ځیني موانع دي چي قانون ورته اجازه نه ورکوي .له همدې امله ده چي د کرزي هڅه به دا وي چي دودیزه لویه جرګه راوغواړي.

سر له اوسه د کرزي پلویان دا خبره کوي چي د ولس په ذهن کي ګډ حکومت سقوط کړی، پر ځای یې باید بل حکومت راشي، د ولس ذهنونه اماده کوي چي که د کرزي له خوا لویه جرګه راغوښتل کېږي، مخالفت یې ونه کړي بلکي هغوی دې په کي ګډون وکړي.

د کرزي د پلویانو دا خبره چي پر نظام او قانون باور لرو، د ګډ حکومت له مشرانو سره جنجال نه غواړو، تفاهم ته ترجیح ورکوو، هدف یې دا دی چي هغوی له واک څخه لاس پر سر شي او واک بېرته د کرزي ټیم ته په لاس کي ورشي.

سمه ده چي که کرزي لویه جرګه راغواړي حکومت به یې مخالفت کوي، خو په هر صورت د کرزي د ټیم پلان همدا دی، مخکي یې غوښتل چي له حکومت سره په ګډه لویه جرګه را وغواړي او غني پر دې خبره راضي کړي، خو کله چي ډاکټر انوارالحق احدي کرزي ته دا خبره وکړه چي په لویه جرګه کي تاسي وړونکي نه یاست، که خلک راغواړئ نو ۳۰ سلنه به د غني خلک وي، ۳۰ سلنه به د عبدالله کسان وي، ۳۰ سلنه به له عام ولس څخه په نښه شي، تاسي ته به ۱۰ سلنه کسان درکول شي، د لویي جرګي په دغسي یو جوړښت کي بیا تاسي ګټونکي نه یاست، بلکي احدي ورته ویلي وو چي د دې پر ځای غوره لاره دا ده چي بیا ځل انتخابات وشي.

دا چي پر انتخاباتو د خلکو باور له منځه تللی، اوسني امنيتي شرايط هم ممکن په راتلونکي کي د انتخاباتو اجازه ورنه کړي، نو کرزی هڅه کوي چي په خپله خوښه پرته د حکومت له خوښي لويه جرګه را وغواړي او حکومت به د همدې دوديزې لويې جرګې مخالفت کوي.

سوال دا دی که په لويه جرګه کې طالبانو او اسلامي حزب (حکمتيار) استازي نه وي، بيا به د بن پرېکړې ته ورته پرېکړه وي، او دا هم سوال دی چي دغه ځل به دوی د غني ځای ناستی ولسمشر ټاکي، د موقت حکومت پر جوړېدو به پرېکړه کوي، د سرپرستي ادارې او يا هم کوم بل ډول حکومت پر جوړښت به پرېکړه کېږي؛ ځکه لا هم ډاکتر عبدالله تر نورو ځان د حکومت د مشرتابه مستحق ګڼي، دا هم مهمه ده چي د همدې دوديزې لويې جرګې له پرېکړې به نړيواله ټولنه ملاتړ وکړي يا نه؟

که ملي اجماع جوړېږي او يا هم دوديزه لويه جرګه راغوښتل کېږي، يوه هم د ولس د درد دوا نه کېږي؛ ځکه بيا به هم وسله وال مخالفين وتلي وي او د هغوی استازي به په کې نه وي، جګړې به دوام وکړي، افغانستان به د روس او امريکا د سياليو ډګر ګرځي، دا ډول به د پاکستان او هند سيالی هم د افغانستان په خاوره کې رواني وي، د سعودي او ايران د سياليو امکان هم شته.

که کرزي غوښتلای چي هېواد کې سوله او امن راشي هغه په خپله نږدې ۱۳ کلنه دوره کې ډېر زيات چانسونه درلودل، خو ويې نه غوښتل او يا دا چي له مخالفو وسله والو سره سوله وشي، جګړه پای ومومي، اوس هم ولس باوري دی چي نه کرزی او نه هم اشرف غني سولې ته ژمن دي، غني د خپل واک د بقا لپاره او کرزی د بېرته واک ته ستنېدو لپاره سياسي هلې ځلې کوي.

تر ټولو غوره لاره دا ده څو پر دې فکر وشي چي څه ډول موږ د بهرنيو يوځيانو له شتون څخه ځان خلاص کړو، څه ډول د امريکا او روس د سيالی د ډګر پر ځای د دغو دوو هېوادونو له رقابت څخه د افغانستان په ګټه استفاده وکړو؟ څه ډول د هند او پاکستان، دغه ډول ايران او سعودي له رقابتونو څخه په سيمه کې د ملي منافعو په نظر کې نيولو سره د هېواد په ګټه سالمه استفاده وشي؟

دا هر څه هغه وخت کېدای شي چي له وسله والو طالبانو او اسلامي حزب سره جوړجاړی او سوله وشي؛ داسي سوله چي د هغوی د تسليمی خبره نه وي، ګاونډيو هېوادونو ته په کې امتياز ورکول نه وي، بلکي د ريښتيني سولې لپاره د ګډ حکومت مشران او کرزی ژمن و اوسي.

د پای خبره دا ده چي که غني لا هم سولې ته ژمنتيا ونه ښيي ممکن له ده سره د حکومت له دننه او د کرزي مخالفتونه طالبانو ته د ځينو ولايتونو د نيولو چانس ورکړي، په هغه صورت کې به بيا طالبان پر جګړې لا زيات ټينګار کوي او د سولې دغه ځنډېلي پروسه به نوره هم وځنډول شي.

د يوه سوله ييز، پر خپل ځان بسيا او يوموټي افغانستان په هيله

****يادداشت:***

***همان طوری که بارها نگاشته ايم و تاريخ هم بر قضاوت ما صحه گذاشته است، خلقی ـ پرچمی ها هيچ رابطه ای با کمونيزم نداشتند. آنها يک مشت جواسيسی بودند که جاسوسی شان را در زير نقاب به اصطلاح ترقی و پيشرفت انجام می دادند. اين که هنوز هم عده ای پافشاری دارند تا از نوکران روس اشغالگر به نام کمونيست ياد کنند، هرگاه عدم فهم برخی ها را در اين قضاوت ناديده بگيريم، بقيه عناصری که آگاهانه خلق و پرچم را کمونيست می نامند، همه و بدون استثناء نوکران "سی. آی. ای" اند که به دفاع و به نمايندگی از نظام حفظ مالکيت خصوصی، می خواهند جنايات تاريخی يک مشت مزدور را به رقيب تاريخی خويش نسبت بدهند.***

***ادارۀ پورتال AA-AA***